عبدالغفور لېوال

۲۰۲۱/۰۷/۲۶

# د رواني جنګ په وړاندې د ملي مدافعې ستراتيژي

## دويمه او روستۍ برخه

درنو مبارزو ملګرو،

هره تولیزه مبارزه يوې فکري کربنې، پارونکي انګېزې او تاکلي ايډيولوګ ته اړ ده .
ملتپالنه او وطندوسي بايد زموږ د مبارزې انګېزه وي. افغان ملتپالنه، چي زه يې افغانيزم بولم، لنډ تعريف يې دا دی :

افغانيزم د هغو معلومو فکري منظومو او ګډو سازماني اقداماتو مجموعه ده، چي پر بنسټ يې د افغان انسان ژوند وژغورل شي او بيا يې ژغورل شوی ژوند له مادي او معنوي پلوه ورځ تر بلې ښه کړای شي.

په بله ژبه د افغانيزم شعار دا دی، چي:

تر هرڅه لومړی افغانستان !

هره ښېګڼه د افغان انسان لپاره!
زموږ مضر، دوښمن او مخرب ګاونډي له بل هيڅه دومره نه ويرېږي، لکه د افغانانو له ملتپالني څخه. يوازې د افغانستان په اوسنۍ جغرافيا کې نه، بلکي زموږ په سيمه کې افغاني عنصر د يوه بالقوه ځواک په توګه شته. ملتپالنه يوه اينرژي ده، لکه د برېښنا جريان، چي هرکله په دغو بالقوه عناصرو کي خوځښت راوستلای او په بالفعل بدلون راوستونکي ځواک يې بدلولای شي .

افغانيزم يا افغان ملتپالنه درې ځواکونه پر يومهال رامنځته کولای شي :

۱ـ يووالی رامنځ ته کوي او ټولنه د خوځښت و بدلون لپاره راخوځوي .

۲ـ د ګاونډيو او هر بل يرغلګر په وړاندې داسي دفاعي - معنوي قوت دی، چي د پرديو استخباراتو له خوا استخدامېدلای نه شي .

۳ـ تر ملي دفاع روسته د نظام په اصلاح او سمون کې هم پکارېږي .

اوس د ګاونډيو استخباراتو په وړاندې د جګړې ملي انګېزه افغان ملتپالنه ده او سبا چي د دوی لاس لنډ شو، موږ به تيار د روښانه، منظمو، منسجمو او پوهو کادرونو يوه لويه جبهه ولرو، چي د نظام په اصلاح، له فساد سره په ملي مبارزه او سمون و بدلون کي به پر همدغه ځواک اتکا کوو .

په تېره نيمه پېړۍ کې، چي د نړۍ استخباراتو د افغانستان هر بل ارزښت له منځه يووړ، له نيکه مرغه په ملتپال غريزي ځواک يې زور ونه رسېده. ډېره هڅه يې و کړه، چي تکفير يې کړي. يو مهال د (ملي) کلمه کفر وګڼل شوه، خو د افغان ملتپالني، افغانيزم او وطندوستی احساس لا پسې پياوړی شو، دغه زخمي کړل شوی حس، په تېره بيا په ځوانانو، پېغلو او زلميو کې اوس هم ډېر ځواکمن دی، يوازې انسجام و مديريت غواړي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

کومه ديني ستونزه هم ځکه نه لري، چې زموږ ملت مسلمان ملت دی او د مسلمان ملت پالنه کومه ناروا نه ده، بلکې د خير کار دی .له بلې خوا موږ کې شمېر ملتپاله او وطندوسته ديني علما لرو، چې د ټينګ ديني ايمان ترڅنګ پر خپل ملت او وطن مينن افغانان دي .

په فرهنګي مبارزه کې د ګاونډيو استخباراتو يوه تبليغاتي حربه دا ده، چې د نظام د يوې برخې( حکومت) په دننه کې فساد ته ګوته نيسي او ځان ته تبليغاتي دلايل پرې جوړوي، د تروريسم او فساد اړيکه د چرګې او هګۍ ده، په تېرو شلو کلونو کې فساد تروريسم پياوړی کړ او تروريسم فساد بنسټي کړ .

دا کړۍ بايد له يوه ځايه ماته شي. اول بايد د ګاونډيو استخباراتو په زور چلېدونکی تروريسم مات شي، چې په پايله کې فساد پخپله له پښنو غورځي. دا چې فساد او تروريسم څنګه يو بل پياوړي کوي، پر دې به بل وخت ليکنه وکړم . لنډه يې دا، چې همدغه د روښانفکرۍ، پرمختګپالنې، ملتپالنې او وطندوستۍ ملي جبهه چې اوس بايد ترهګرۍ ضد جګړه مديريت کړي، سبا به لخيره سره د فساد ضد جګړه هم په پوره يووالي او ځواک رهبري کوي .

دا جبهه به په ګډه سره جوړوو، د بري تضمين له ما وغواړئ!


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ